**ليکونکی:** د ډیب لینډورف «Dave Lindorff»
**منبع او دخپرید و نیټه** : انتی وار «07-12-2020».
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتورسید حسام «مل»

-----------------------------------------------------------

# په افغانستان کی د نه ختمیدونکی جګړه کی متحده ایالاتو لپاره تسلیمیدل په ښکاره ډول یو انتخاب نه دي

***For the US in Afghanistan,s Endless war ,surrender is apparently not an option***




***په افغانستان کي اوسنی ورځنی جګړه په ريښتيا چي د متحده ایالاتو لپاره دا « تلپا تی جنګ» په نوم یادیږي .***

*دغه جګړه داکتوبر په اومه نیټه کال (2001) کی په لاره واچول شو ، حال دا چي دنړیوال تجارتی مرکز په ویجاړ شوی یا ورانیو کي پنځه اونی لا مخکي د سپټا مبر د یولسمي نیټی له برید څخه لا دمخه داور شغلی تر سترګو کید ل.*

*ددی جګړی. اوس (نولس) کاله کیږي چي تقریباً (نه) کاله دو یتنام دجګړی له اوږدوالی څخه اوږد دي . او تر دی دمه پوري چی دامریکي هر یو ولسمشر هڅه کړي چي د جګړی څرخ وڅرخوی اویا دهغه دپای ته رسولو په اړه خبری وکړي کوم چي دا پخپله ممکن داامریکي دخلکو یو عامه یا په زړه پوري هیله اوسی ،عمده رسني اود امریکی محافظه کار اولیبرال دواړه ډلی تپلی دموضوع په اړین په خبرو پیل کوي اوداسی ځرګندوی چي د قوتونو ایستل له افغانستان څخه اوس « مخکي دوخته» دی اوکیدی شی چي ناورین را مینځته کړي او طالبان به بیرته واک ته ورسیږي [ Fair:org [1/31/9/11] او 9/11/19 او [Extra magzin 7/11,9/11] وکتل شی اوس چي ماتی خوړونکي*

ولسمشر «دونالد ترامپ » دجنوری په شلمه کی له خپل دفتر څخه وځی ، نو هڅه کوی چې دخپل دکمپاین دوخت ژمنی پوره کړي چي دمتحده ایالاتوجګړه په هغه بی وزله اوزغمونکي «امپراتوری هدیره » کي پای ته ورسوی ،هغه یعنی «دونالد ترامپ » هم تورن دي چي له افغانستان څخه دمتحده ایالاتو دسرتیرو دوتلو وړاندیز لپاره یو څه خطر ناکه خبره ده « دونا لد ترامپ » د چهارشنبی په ورځ داکتوبر په«اومه» خپل پیام په تویت کي اعلام کړ چي هغه له افغانستان څخه تر کرسمس پوری زړه ور نارینه او ښځینه سرتیری چه افغانستان کی دامریکی لپاره خد مت کوی کورته را ستا نه کیږي .

له دی تولو کلونو وروسته ، اوس لا هم په هغه هیوادونوکي دمتحده ایالاتو لږ شمیر ځواکونو دپاتی کیدو په اړین پام ورته اړول شوی [ له هغه وخته چي «دونالد ترامپ» دمتحده ایالاتو دولتی واک تر لاسه کړ د «8500» امریکایی سرتیری په زیاتولو سره دامریکي سرتیری په کا ل ( 2017) کي (14000). سرتیری وه چي «دونالد ترامپ» داکتوبر په میاشت کا ل (2019) کی دځواکونو شمیر له (13000) څخه دنومبر تر پایه پوری (5000) سرتیرو ته را ټیټه کړ ] داسی ریکارد چي په سختی سره دهر ډول تعریف سره کولای شو « پرتحرک» ومنو، دا ډول ټکل شاید چي یو ډول د اوږدی مودی حرکت یا خوځښت په نظر راشي او هغه هم بیا په ځا نګړي بڼه دجمهور ریس له خوا ، کوم چي په ټولټاکنه وټاکل شو او خلکو ته وعده وسپارل چي دامریکي دا ډول له تمسخره ډک جنګونو ته دپای ټکي کیږدي یعنی ددی نه ختمیدونکي جنګونو ختمول.

اما د رسنیو د عکس العمل د لازیات څیړلو اوبررسی لپاره، آیا تاسی داسی انګیری چي «دونالد ترامپ» به فرانکلین دیلان روز ولت (Frankline Delano Roosvelt=FDR ) وه ، چي ویل یی ، هغه دنازی ***ویرماخت*** (wehrmachat ) وروستی برید په مینځ کي له فرانسی اوله ایتا لیا څخه دمتحده ایالاتو ځواکونه وبا سی

رسني په مجموعي توګه سره دهغه دوړاندیز شوی آمریکایي ځواکونو دوتلو په ضد پرهغه سمدستي برید وکړ اودهغه وړاندیز مخکی له وخته وګڼل .

اسوشیتید پرس په (2020-19-19) کي ولیکل :د متحده ایالاتو پوځ دولسمشر « دونا لد ترامپ» ددي ادعا په اړه سترګي پټي کړي ،چي ټول آ مریکا یي سرتیري به د کا ل ترپایه پوري له افغانستانه ووځي ، دوی دداسی پلان په اړه څه نه پوهیږي او دنوروسرتیرو دتدریجی وتلو ګړندی کولو لپاره چي دوی یی ترسره کوي داسی کوم رینتینی مجوز یا امر په لاس کي نه لري ، دا هغه څه دي کوم چي یو سرچینی دخپل نوم نه اخیستو سره بیان کړ .

دا همغه بی نومه «پنتا ګونی» چارواکی چي دبهرنیوچارو په وزارت کي دیو بل له نوم اخیستو څخه په ډډه کوو سره یوځای شوی ، ویل شوي ،چي امریکی ته دا ډار را مینځته کوي چي که چیری خپل ځواکونه ژر تر ژره له افغانستان څخه وباسی نو په هغه صورت کي متحده ایالات دی ته به مجبور شي چي خپل حساس نظامي تجهیزات شا ته پریږدي په داسی حا ل کي چي طا لبا ن لا تر اوسه داسی شرایط په لاس کي نه لري یا داچي طالبانو دامریکي شرایط نه دي پر ځای کړي کوم چي د متحده ایالاتو دوتلو د پلان کلیدي عنصر د طا لبا نو لخوا همغه د تا وتریخوا لي کمول دي .

دا ډول شکا یتونه ددوي په بوږنونکی څیرو کي لیدل کیږي ، امادغه وضیعت دامریکي د رسنیو په ګذارش کي داسی انعکاس ورکول کیږی چي ته به وایی دا پوره یو څرګند حقیقت دي. سره له دی « دو نالد ترامپ » په کا ل (2016) کي د امریکی د جمهوری ریا ست مقام ته چي خپل ځان نومان کړ ، رای ورکوونکو ته قول یا وعده سپارلي وه چي که چیری هغه د امریکی جمهور ریس وټاکل شي نو هغه به دامریکي ټول با ند نی جګړو به د پا ی ټکي کیږدي اوبیا په ځا نګړي بڼه دافغانستان جګړه کوم چي یو له ډیر اوږد اونه ختمیدونکي جګړه شمیرل کیږي، له بلی خواڅخه ***«ما یک پمپیو»*** دامریکی د با ند نیوچارو وزیر داګست د میاشتی په دوهمه نیټه کی څرګند کړ چي

ولسمشر «دونالد ترامپ» هغه ته دنده ورسپارلي چي په افغانستان کي تر دکال(2020) انتخاباتو تر ورځی پوري دامريکي د ځواکونو په شمير کي ټيټوالی راولي يعنی چي د سرتيرو شمير په افغانستان کی راکمه کړ شی ، هغه کار کوم چي «پمپيو» اود پنتاګون اړين مقا مات د ولسمشر امر پر ځای نکړل .

خپه نشي يا چي خيا ل ونه سا تي ا وهغه دا چي جګړی پلوه او ا مپراتوری پلوه ميد يا ټول يو شا نته سره دريځ لري يعنی د جګړی دوام .

د«دونا لد ترامپ» لوړپوړي جنرال اود امريکي دمتحده ايالاتو دملي امنيت سلا کارد (16-10-2020) نيټی د بی بی سی دخبريال سره په يو مصاحبه کی له افغانستان څخه د امريکي دموجوده ځواکونودوتلو په اړه راپور ورکړ چي په افغانستان کي د ګډی ځواکونو ريس جنرال **مارک ميلي** دپوځ لوړ پوړي جنرال اود بهرنيو چارو وزير «مايک پمپيو» ژمنه کړی چي دامريکي د ځواکونو وتل له افغانستان څخه ديو لړ شرايطو پر بنسټ وی په شمول د تاوتريخوالی دکمولو سره .

ما مه بی لاری کويی ، زه وړانديز نه کوم چي «دونالد ترامپ» يو سوله غوښتونکی شخصيت دي ، له دی څخه ليری يوائی دهغه په ملاتړ سره تاسی دسعودی جنګ ديمن په مقابل کي د **توما هاوک** دتوغنديوپواسطه سره پرسوری باندی بمباری دشمالی کورياپه وړاندي اوريني او دتاوتزيخوالی ستر ګواښ د ونزويلا په وړاندي دجګړی تهديدات دايراني پوځ تحريکول چي د خپل بی پيلوتو الوتکو پواسطه سره بمونه وکاروی اوهغه مسافر وړونکي الوتکه را وغورځوی او هم دايران دپوځ دوتلی جنرال ترور او د پنتاګون دکال په کال دمصرفاتو د بودجی لوړول ته پام واړوي. او بيا په ځانګړي ډول دهغه د تاوتريخوالی اندازه يا مقيا س ، عمد تاً د بی پيلوتو الوتکو پواسطه سره بمب ګذاری يا حتی هغه تها جما ت اويرغلونه چي په افغانستا ن کي د شته امريکا يی ځواکونو په حضورسره به دغه ډول حملی دهيواد څخه دبا ندي به دوام وکړي =ها چي زه څه وايم هغه دا دی. هغه څه چي زه وايم دا بلکل څرګنددی چي له تير کا ل راهيسی له افغانستا ن څخه په تتد ريجي او دوامدار بڼی سره دامريکی د متحده ايالاتو د قوتونو د شمير کميد نه او کله هم چي «دونالد ترامپ » په پای کي دمتحده ايالاتو د پاتي سرتيرو د بشپړ وتلو اعلان وکړ نود پنتاګون په ملا تړ يا په تحريک سره ټول اړوند نهادونه او انسيتوتونه دبهرنی چاری دوزارت مقامات د ملی امنيت شورا اود نظا مي صنعتي مجتمع چاروا کي خپل فشا ر واچول چی له افغا نستا ن څخه امريکايی سرتيری بايد چي ونه وځی نو دهمدی اصل په نظرکی نيولو سره رسا نوی نها د ونه او سازما نونه خپل دنده بلل چي مخا لفت وکړي يا نوموړی موسسات د دی مسلي پرضد باندي په واشنګټن کي را ټول کړي تر څو چي دغه نهادونه خپل د خبرتيا پيام يا ګواښ په څرګند بڼی سره په ژبه بيان کړي اوهغه داچي له افغانستان څخه دی سرتيری ونه ايستل شي.

هيل «امريکا يی ويب پا نه » د نومبر په «شپاړسم» کا ل (2020) کي يو مقا له د **مکونيل** (McConell) له خوا « دونا لد ترامپ » ته له ا فغا نستا ن څخه دامريکی دځواکونو د ايستلو تر عنوان لاندی خبرتيا يا هشداری ورکړ شو هغه داسی کاږي :

**ميچ مککونيل** د سنا د جرګی داکثريت مشر له افغا نستا ن څخه دامريکا يی ځواکونو په اړه ددوشنبی په ورځ دامريکی تصميم نيونکي مقام ته ډير جدي اخطار يا خبر داری ورکړ حتی کوم چي پنتا ګون ددی کار لپاره مخکی دمخکي چمتوالي نيسي يعنی چي دغه نهاد هم دخپل له طرفه خبرداری ورکولو ته تياری نيسی .

مکونيل. دمشرانو دجرګی له تريبون څخه خبری کولی او پخپل خبرو کي خبرداری ورکړ چي په کانګرس کي يوازی ( کوچنی اقليت) له افغانستان څخه دسرتيرو دشمير دکميد و څخه ملاتړ کوي هغه يعنی مکونيل ياده کړه چي له افغانستان څخه دسرتيرو چټک ايستل به مونږ او زمونږ متحد ينو ته به ستر زيا ن ورسوی .

په ریښتیا نې بنې سره یو څوک د ورته اویا د مشا بهې نظر تصور کولی شی ، او هغه داچې په ویتنام کې دمتحده ایالاتو ددوامدار جنګ ملا تړ کونکې ته داسې وضع رامینځته شو کوم چې دمتحده ایالاتو دسفارت کارمندان په سیګون کې دهغه سفارت دبام پر سر چورلکې راښکته شو چې دهغه سفارت مامورین له هغه هیواد څخه وباسې یا یې ې وژغورې.

مونږ له ډیر مودې راهیسې پوهیږو چې متحده ایالات له کلونو را هیسې په افغا نستا ن کې د کړکیچ مدیریت دلاسه ورکوې اویا په غوره توګه اداره کوی او دی وضیعت ته په پام سره چې هرکله امریکا په پای کې له دی هیواد څخه وځی طالبان به دغه هیواد پخپل ولکه کې راولی نو له دی امله نه اړیدونکې د پاتې امریکایی سرتیرو ایستلو لپاره حقیقت یو نوی دلیل نه دې. اما د (دونالد ترامپ) دنظری له مخې چې وایی چې د امریکې د ځواکونو شتون په ا فغا نستا ن کې پای ته رسوي. نو ددی موجب ګرځې چې هغه د رسنیو ملا تړ له لاسه ورکړي ، شاید لازم وي چې یاده کړو یا اعتراف وکړو چې امریکا په دې جګړه کې دماتې سره مخامخ دې یا داچې غواړی د پنټاګون د بودجې د مصارفاتو سلسله لا پسې د (50) سلنه څخه زیاته کړي . نیویارک ټایمز به (12-11-2020) کې په ډیر چټکتیا یو مقاله دجنرال **میلی** تر عنوان لاندی له افغا نستا ن څخه دامریکې دسرتیرو د ایستلو د زمانی جدول په اړه دامریکې د لوړ و جنرالانو دوینا څخه په نقل قول سره لیکې : زه فکر کوم « چې د ترامپ دملی امنیت مشاور **«رابرت براین»** دبل هر شخص سره کولی شی هرڅه چې صلاح ووینی فکر وکړي ، زه غواړم دشرایطو پر بنیا د پروګرامونه چې له هغه څخه خبر لرم او ځما مرکې د جمهور ریس سره دی حالت ته را چمتو کړی یو چې اوضاع یا حالات تحلیل کړو

په عین وخت کې دمتحده ایالاتو (2020-11-17). دخبرپه بنیاد ولسمشرله خپل ګوند څخه څنې غړی له افغانستان څخه د امریکایی قوتونو دوتلو له کبله سره خپل مخا لفت څرګند کړل یا په بل عبا رت ډیر جمهوریخواهان دامریکای سرتیرو له افغا نستا ن څخه پروتلو باندی خپل مخالفت څرګند کړل په مجله کې د «ترامپ» له افغانستان څخه د ځواکونو د وتلو پلان ودی په هکله د جمهوری غوښتونکې شور ما شور تر سرلیک لاندی لیکل شوی :

دمشرانو جرګې دوسله والو خدماتو کمیټې کې دسه شنبې په ورځ جمهوریخواهانو د راپورونو په محور کې دمخ په زیا تید ونکې غند نې سره زیاته کړه چې ولسمشر «دونالد ترامپ » په پام کې لرې دخپلې ولسمشری د ختمیدو په ورځو کې له عراق اوله افغانستان څخه دمتحده ایالاتو ځواکونه وباسې .

دنظامی فشار زیاتیدل ، طالبان دمذاکری میز ته را وبلل ، جمهوریخواه **مکتورنبیری** ( Mac Thornberry) دسه شنبې په ورځ خبرنګارانو ته وویل : اوتقریباً ټول موافقه وکړل چې دامریکی دسرتیرو دشمیر کمیدنه دشرایطو په نظرکې نیولو سره باید ترسره شی .یا په بل عبا رت څه چې هغوی نطر راکوی نو مونږ هم یو څه هغو ته نظر ورکوو او زه په هیڅ یو شرط پوه نشم چې له افغانستان څخه د ځواکونو دکمولو اصلی توجیه وکړم . په پای کې ، که څه هم ددې موضوع منل چې جمهور ریس په څه مها ل دهغه څه مطالبو په مورد کې چې تویت کوي جدی او مصمم دی ؟ یا چې یوائځی کله چې هغه هر سبایی له خوبه را پاڅیږي اودهغه په ذهن کې چې څه ګرځی هغه لیکې یا تویت کوی؟ سخته دې ، که چیری هغه پخپل خبرو با ندې ولاړ اوسیده یا داچې جدی وایې چې له افغانستان څخه خپل سرتیری را وباسې اوهغه هم دکرسمس تر درشل پوري ، اما له افغانستان څخه دامریکایی سرتیرو دوتلو مخا لفان بریالی شوی دي ، اوهغه داچې داسې راپورونه تر لاسه شوی دي چې تلونکې جمهور ریس «دونالد ترامپ» دخپل ادعا څخه کوم چې هغه غوښتل چې له افغانستان څخه امریکایی سرتیری را وباسې منصرف شوی اوپه دې راضی شوی چې دهغو په شمیره کې یو څه کموالی راولې او دغه مسله یعنی دامریکی زړه ور ښځینه او نا رینه سرتیری

*شتون اوناشتون خپل ځای ناستی «جوبایدن » ته پرېږدي . داوسنی ولسمشر «دونالد ترامپ» دوتلو پلان په مقابل کي د رسنیو بشپړ مطبوعا تو ته په لړه برخه کي مننه، **(با یډ ن )** به دجنوری په میاشت کي دفتر ته ننوځی اوهغه دا چی متحده ایالاتو لا هم په افغانستان کي دنه ختمیدونکي جنګ مسول دي*

## ***څو کرښی د لیکونکی په مورد کي :***

***یو لیندورف د دې کانټ بی هیپنګینګ بنسټ ایښودونکی غړی دی ، د آنلاین ورځپا نی مرسته کونکی دی: بارک اوباما او د فکری سیا ست AK)***

---

## ***په درناوی «14-01-2021»***